دمقالي ليکونکی : میک ویټنی(Mike Whitney).
منبع اودخپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوز«2016-08-09».
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سید حسام «مل».
-----------------------------------------------------------

# دواشنګټن په مخ څپیړه: ترکیه دمرستې دترلاسه کولو دپاره مسکو ته مخه کړه

## Washington slap down : Turkey turns to Moscow For help

ترکیه ورو ورو د اطلس د سمند رله سیستم څخه د وتلو په درشل کې دي چې دهغه هیواد دوتلو د لیل دهمدغی کود تا تر شا انغښتې یعنې هغسې یو وتنه اوخا رجيد ل کوم چې دنا تو (NATO) د ډار اود وارخطا یی موجبا ت یی برابر کړی دي ، بی ویلو دی پاتي نشي چي دغه پیښه ډیر پراخه او له اردوغان څخه لا پسي ډ یر غټ اوستر دي اوهغه داچي دغه غورځنګ په واقیعت کی یو جیوتکتونیکی ( دځمکي پرمخ مهند سی اوجوړښتی بد لونونه) حرکت دي کوم چي په دی حرکت سره دترکیی اودسوریي – دترکیی اود چین – د ترکیی اودروسیی – د ترکیی اود ایران په اړیکو او منا سبا تو کی ډیر ستر تا ثیر به وغورځوی اوکیدای شي چه دغه غورځنګ نړی ته بد لون ورکړي.

**یونس سونیر دترکیی دوطن دګوند مرستیال :**

« اوس بلکل روښنا نه شوی چي دغه کود تا یواځی د یو ډ لو ټیټ رتبه نارامو نظامی افسرانود ترکیی د اردو په مینځ کي هڅي او اند وه اونه چندان دترکیی ددولت په وړاندی یوه پراخه اوستر د سیسه ، دغه حرکت اوغورځنګ له څو لسیزو را په دی خوا په نظر کی وه چي ددی غورځنګ دبریالیتوب امکان هم ورل کید ل. »

**انفرمیشن کلیرنګ هوز « کانټر»:** په نظرکی دی چي داګست د میاشتی په نهمه نیټه کي د ترکیی د جمهور ریس **رجب طیب اردوغان** په **سینټ پطرسبورګ** کی دروسیی دجمهور ریس **ولادیمیر پوتین** سره ملاقات وکړی اودواړه مشران به د ترکیی د تا زه کود تا څخه پر ورستیو رامینځته شوی سیا سیی تحولاتو ، پرتوریزم (جهان ګردی) اود ترکیی د طبعی ګاز دپا یپ لین (Turkstream) پر لاری اچونو با ندي کوم چي دهغه پا یپ لین په جوړونو سره ترکیی به په جنوبی اروپا کی په یو ستر دانرژی په مرکز واړوی هم به خپل خبری شریکي کړي اوداسی انتظار هم وړل کیږی چي هغوی به په سوریه کی دروان جګړی دختمید و په لارو چارو با ندي هم سره خبری وکړی او پوتین به د**اردوغان** څخه په کلکه وغواړی چي پخپل نه ستړی کیدونکی هلو ځلو سره



*له ترکیي څخه داسلامی افراطی شبه نظامیانو لاری وتړی کوم چي سوریي ته دجګړی دپاره وانوړي اوپه عین حال کی اردوغان به له پوتین څخه وغواړی چي هرهغه څه چي پخپل قدرت کی لری دترکیي په جنوب کي* ***دکردانو*** *دیومستقل دولت دمینځ ته راتلو مخه ونیسي دغه ملاقات شاید چی په یومعمولی سیا سی جست او مسکا سره دلاسونو په ورکولو اودیو ګډ اومشترک اعلامیی په اعلامولو سره چي په هغه کی یود بل سره مرستی اوپه منطقه کی د سولی اود ټیکا و د پلی کولو اوپه سوریه کی د نیا بتی جګړی دپای ته رسید و په تعهداتو سره به تر سره شي .*

*اوس داسی په نظرراځی چي تېلودتېلو سره پخبل مینځ کی دعمومی اړیکو اومناسباتو دټینګولو دپاره به په یوه کنفرانس کی سره به را ټول شی اودغه کنفرانس به دهرډول لویو اوپراخو معنی او مفهوم اویا اجنداڅخه به خا لی اوتش وي اما دا به په یقینی بڼی سره داسی به نه وی چی داکنفرانس معنی اومفهوم ونه لری -واقیعت دادی چي که چیری دروسیی اود ترکیی ترمینځ اړیکی عا دی اونورما ل حا لت ته را وګرځی نو د دی تمه ورل کیږي چي د منطقي په سیا سی جغرافیه کی به ستر تغیرات رامینځته شي اوهغه داچي انقره به د تهران – د مشق اود روسیی د نورو نژدی متحد ینو سره په ایروآسیا کی ټینګ پیوند اواړیکی پیدا کړي اودغه رامینځته شوی اتحاد اوپیوند ددی به جوګه شی چي دنړی دشطرنج په دړه کی دامپریالیزم نقشه او طرحی به دړی وړی کړی یعنی هغه نقشه کوم چي امپریالیزم غوښتل چی د انرژی د لیږدولو کنترول له قطرڅخه داروپا په لورترڅا رنی لاندی ولری اوهم دامپریالیزم مخکی له مخکی دمینځنی ختیځ هغه را ایستل شوی نقشه چی دآسیا له محوره تا ویدل هم په ستراتیژیکی لحاظ دما تی سره مخا مخ کړی انصا فاُ بی ویلو دی پا تي نشی اوهغه داچي که هرڅوک نقشه لوستلی وشی هغه ته به په بشپړه بڼه څرګند اوښکاره شي چی دترکیی جغرافیوی موقیعت دیو قوی دولت په رامیځنته کیدوسره یو ُپل ته پاتی کیږی چي داروپآ اودآسیا دوګړو د مخ په ودي جمیعت او نفوس سره د ثروت اود مد نیت اودمد رنیتی دراکړی ورکړی با زار به ګرم وسا تی دغه حیا تی اتصا لی قطعه به د سیا سیی جغرافیوی معما وی داسی را حل کړی چي په تتدریج سره د واشنګټن له مدار څخه به راووځی*

اوداميرياليزم دښمن قلمروته به ورننوځي کوم چې دغه د ترکيي د جولای د مياشتی د (۱۵) نيتې کود تا هغه وروستی اواخری ميخ وه چې د«**نظم نوين جها نی** » پر تا بوت باندی وروټکول شو کوم چې دهغه دلایل به دهمدی مقالی په وروستيو برخو کی توضيح کړل شی –باید وویل شی چی د سی آی ای (CIA) په ملاتړ سره دترکيي دغه نا فرجام کود تا ونشو کړلی چی د نړی په دی ناراحت شطرنج کی **اردوغان** ته کشت اوما تی ورکړی دلته په لاندی بنې سره دهغه کلیپ یاغوړچاندی لنډ یزچی ددرایستر (Draitser) په مرسته سره په تحریر بڼی برابر شوی دی توضيح کوو :

« په پای کې دترکيی د «2016» د ناکامه اودنه بريالیتوب کودتا لاسته راوړنی به په تاريخ کی پا تی شي چی د کلونو اود ځو لسیزو په تیریدو سره بیا هم خپل اغیزی به وسا تی اوپه ښکاره بڼی سره د ترکيي سره د **متحده ايالاتو - نا تو** اود **اروپا** د محور شکست اوما تی نه یوازې تریو حده پوری دوړاند وینې وړ بریښیده اوهغه داچي ترکيه په راتلونکی کی نه یوازی داچی خپل چاپيریال دروس اود چين سره به ورغوی بلکه ترکيه غواړی چي په غيرغربي کمپ (اردوګاه) کی لکه په بريکس(BRICS) دشا نګهای دهمکاريو په سازمان (shanghai corporation organixation) د چين د جادی په استرتيژيک کمربند اود آسيا دپا نګوالی په زيربنا يی بانک ( Asia infrastructure investment Bank)کی ځا تنه ځای پيداکړي اودا ځکه چي په نړيوال شطرنج کی د (سی آي ای ) په ملا تړسره د امريکا متحده ايالات ونتوانيد ل چي اردوغان ته په لوبه کی مات اوشکست ورکړی کوم چی تاريخ به هير نکړی ».

لکه چي مخکی يعنی ددی مقالی په اوله برخه کی ژورناليست **درايتسر** فتح الله اودهغه پيروان ددی ناکامه کودتا اصلی عا ملان اومسولين بولی هغه څه دی کوم چی نوروهم په همدی ورته بڼی سره دوی کودتاچيان ګڼی ځنی اطلاعاتی سرچينی داسی راخرګندوی چی دفتح الله ګولن ټول طرفداران دترکيي ددولت په ټولو څانګو اوبيا په ځانګړی بڼی سره په اردو – قضا او ټولنيز رسنيو کی لوړ چوکی او ستر نفوذ اوبرلاسی لرل چی دوی ټول له يوه سره دفتح الله ګولن تر سرمشری لاندی غوښتل چی د يو موازی حکومت دراميئځته کولو سره دولت او د ترکيي ملی امنيت تر ګواښ لاندی راولي لکه چي په ورته بڼی سره ښاغلی **پا تريک کوکبورن** (Patric Cockburn) ژورنا لست د کونتر پنچ په ويب پا نه کی هم پرنوموړی موضوع رڼا اچولی دي.

په هرصورت دلته ددی ناکامی کودتا په اړين يو لړ کم سوالونه وپوښتل شو او هيڅ چا په مستقيم بڼی سره دفتح الله ګولن اودهغه دپلويانو په اړين پوښتنه ونکړ اوهغه داچي هغوی په پرله پسی انکار سره بياهم ددی ناکامی کودتا تر شا خپل هڅی او اند پيل کړی وه اودهغوی لاس ددی کود تا تر شا وه نو د دی يا دونی سره ما ته هيڅ دشک او شبهيه ځای نه پا تی کيږی چی ددی ناکامی کودتا ترشا د **فتح لله ګولن** اودهغه دپلو يا نو

هلی ځلی ونه منم اویا دهغوی پرهڅو با ندی برغولی کیږدم داهغه مطلب دی کوم چې قادری ګورسل (Kadri Gursel) دترکیی ددولت منتقد (نیوکی کونکی) څرګند کړ هغه دخپل خبرو په دوام کی زیا توی چې ما ته د حیرانیا ځای په دی کی دی چې فتح الله ګولن څنګه وشوکړلی چې د دولت په مختلفو ځا نګو کی نفوذ پیداکړی او خپل پلویان په لوړو مقا مونو اوڅوکیو ته ورسوی :

نو دلته یوه خبره چې دسړی ذهن ځانته اړوی هغه دادی چې زه فکر نه کوم چي په ښیی اویا په چپ اړخ کی داسی یو څوک پیداشي چی هغه په دی ونه پوهیږی چی دلته ددی ګودتا تر شا دفتح لله ګولن سره دامریکی دمتحده ایالاتو لاس ککړ نه وي اویا دفتح الله سره ددی کودتا په سرته رسولو باندی امریکی دهغه سره مرسته نه وی کړی – لکه چی اردوغان دامریکی دمتحده ایالاتو دمکرر انکار سره سره په دی متقاعد شوی چی ددی کوتا دسرته رسولو دپاره دفتح لله ګولن سره دامریکی دمتحده ایالاتو بشپړ ملاتړ وه لکه هغسی چې اوس ماته را ښکاره شوی دي .

نو که چیری احیاناً دغه کودتا بری ته رسید لی وای نو په ترکیه کی به یو کاملاً عیار نظامی حکومت ځای پر ځای اودترکیی په دننه کی به دداخلی جنګ د پیل احتمالات هم ناممکنه نه وه اویا داچی دواړه حا لتونه په غبرګه بڼی سره مینځ ته راتلل .

**اردوغان** پخپل خبری ناسته اومرکه کی په ډاګه کړاو وویل خارجی رهبران او بیګانه مشران کوم چي اوس خپل ځان مینځګړی یا اعتدال پسند وکیلان اومدعیان بولی نو که چیری زه په دی کودتا کی ددی کود تا چیانو پواسطه سر مړ شوی وای نو تا سی به هرومرو ددی اعتدال پسند و رهبرانو خوشحالتیا اونڅا مولیدلای واي او دکودتا په بری اوکامیابی سره ترکیه به دړی وړی اودخا وری سره خاوری شوی وای داهغه یادونه دی کوم چی پاتریک کوکبورن دکونتر پنچ په سایت کی ورباندی مکث کړی دی .

یاکه چیری دغه کوتا په بری سره ترسره شوی وای نو په **هغه** صورت کی **اردوغان** به لکه د **معمر القذافی** په څیر په وحشیا نه بڼی سره په قتل رسید له .نو دهمدی پورتني یادونو سره دی کوم چي **اردوغان** اوس د **فتح الله ګولن** زرګونه پلویان دترکیی ددولت له مختلفو څانګو څخه چی هغوی هلته مقرر وه له یوسره شړی او له کا ره څخه یی بیکاره کوی اوهغه نور کوم چی اوس د ترکیی په جیلونوکی بند یا ن دی – عامه خلک هغوی خا ینن بولی اوله حکومت څخه غواړی چي هغوی په مرګ محکوم کړی.

اما دبلی خوا څخه داوباما اودغرب تولنیز رسني پر اردوغان باندی نیوکی کوي چی دترکیی جمهور ریس له دولت څخه د پنځم ستن (ستون پنجم ) او دخپل مخا لفینو دځپلو اودله مینځه وړلو په بهانه دخلک مدنی آزادی ترپښو لاندی کوی حا ل داچي **اردوغان** دغه تهمتونه هیڅ نه منی بلکه په ډیر قهر اوعصبا نیت سره پر واشنګټن باندی نیوکی کوی چی واشنګټن د ترکیی د نا کا مو کوتا چیا نو څخه دفاع او پلوی کوي .

*اردوغان وویل اوس زه له تاسو څخه پوښتنه کوم؟ ایا غربیان دترورستانو څخه ملاتړکوي اویا نه کوی؟ آیا غرب ددموکراسی څخه پلوی اوملاتړکوی یا که دتروریزم څخه؟ له بده مرغه دا پخپله همدغه غربیان دی چي د تروریستانو په څنګ کی دریږي اودهغوڅخه ملاتړکوي اودهمدی اصل په نظرکی نیولوسره مونږ ولید چي هغوی دکودتا چیانو په څنګ کی ودرید اوله هغو څخه ملاتړ وکړل حال داچي دوی مونږ سره په دی سختو ورځو کی هیڅ کمک ونکړل لکه هغسی چي مونږ له دغه غربی دوستا نو څخه د مرستو هیله لرل یعنی نه د کود تا په ورځ اونه هم د کود تا څخه وروسته .*

*اردوغان دخپل خبرو په دوام کی په ډیر تا سف اوخواشینی سره زیاتوی زمونږ له دی غربی دوستانوڅخه یوه هم ترکیی ته تشریف را نوړاوزمونږ سره همدردی او غمشریکی ونکړل ( دترکیی د حریت ورځپا نه ).*

*هغه دی ټکی ته په اشا ری سره وویل همدعسی نه دی؟ په داسی حال کی چي زه دپرخپل ځان باندی مین اود مستبد* ***اردوغان*** *له پلویا نواوله مریا نوڅخه نه یم خو دا ځما په نظر شک اوتردید مینځ ته راولي اوهغه داچي پر واشنګتن باندی داسي بربنډ نیوکی په واقیعت کی دامریکی له متحده ایالاتو څخه کمک اومرستی ته تمایل ښکاره کول دی اوهغه داچی دا دواړه هیوادونه سره نژدی او متحد وه آیا همداسی نه دي؟*

***بس نو اوس اردوغان څه غواړي :*** *اردوغان دامریکی له متحده ایالاتو څخه غواړی چي فتح الله ګولن(کوم چی هغه په پنسلوانیاکی دجلا وطنی ژوند تیروي) بیرته ترکیی اود ترکیی خلکو ته وسپا ری اوداځکه چي پر هغه با ندی ترکیی ته د جنایت اودخیا نت تور اواتهام وارد شوی دي اودهغه دبیرته راستنیدو دپاره دترکیی دولت امریکی ته دهغی دجرم اود خیا نت په اړه ځنی روښانه او انکار نه منونکی اسناد لیږلی دی اویا ورسپارلی شوی دی اما لا تراوسه د «اوباما» اداره دترکیی ددولت ددغه غوښتنی په مورد کی څه اقدام نه دی تر سره کړی حال داچی مخکی ددی دواړو هیوادونو ترمینځ ښه اړیکی موجود وه کوم چی وخت نا وخت د ترکیی حکومت مشکوک کسان اوتروریستا ن بی له کوم څرګند او مستند شواهد و امریکی ته سپا رل اما اوس چی دامریکی متحده ایالات دترکیی دغوښتنی په اړه څه غبرګون نه ښیی دا دچا په خبره هغی ته پا تي کیږی چي وویل شي : ما خو د خوراک د پاره مزه داره لعاب (سسس) جوړ کړی دی بی له دي توپیر څخه چي دغه (سس) نر قاز «سپین غټ بتکي» خوری اویا که ښځینه قا ز.*

*دپورتنی اودمخکینی د یادونی د تکرارولو ارزش اویا هغه ته د استثنا ورکولو په اړین* ***کوکبورن*** *وویل :* ***چي نه په چپ اونه هم په راست او ښی اړخ کی به داسی څوک پیدا نشي چي ددی ناکامی کودتا ترشا د امریکی د متحده ایالاتو لاس زید خل او شا مل ونه ګڼی اویا په دی باورونه اوسی چي دامریکی متحده ایالات ددی کودتا دبریالیتوب اودسرته رسیدو دپاره دکودتاچیا نو سره مرستی نه وی کړي .***

دلته اوس داسې یوسوال پیدا کیږی اوهغه داچي **نو ولی داسي** ؟ اوداځکه چي په ترکیه کی هرڅوک بی له دی چي سیاستمدار، افسر او یا د حکومت سړی اویا له کوم ځا نګړی قومی اواتنیکی ډلی ټپلی څخه وی په یوه خوله وایی چی ددی کود تا تر شا د امریکی د متحده ایالاتو لاس وه اود کود تاچیا نو سره هرومرو مرسته کړی . تاسی کولای شي چي دهغه لنډ یز(**د نړیوال سیوسیالیست په سا یت کی په توضیحی شکل سره وګوری** ) په هرصورت داچي دامریکی متحده ایالات داسی ادعاکوی چي واشنګټن ددی کودتا څخه ترمخه کوم اسا سی او مستند معتبر آسناد په لاس کی نه درلود او داهم منا سب نه وه چي بی له کوم سند دکودتا په هکله څه ویلی وه نو دا پخپله یوه لویه غلطی او ګناه دی او دا ادعا ځکه حیرانونکی دی چي په ترکیه کي د انسرلیک (Incirlik) هوایی اډه (پایګاه) کی تقریباً(5000) امریکایی سرتیری ځای پرځای دی کوم چی دغه اډه دامریکی دمتحده ایالاتودپاره په منطقه کی یوله ډیرو مهم هوایي اډو څخه شمیرل کیږی کوم چی دهمدی اډی څخه د سوریی او دعراق او د مخا لفینو پرضد هوایی یرغلونو ته سا زمان ورکول کیږی نو څنګه کیدای شی چي دوی ددی کودتا دپلان څخه بی خبر اووسی - حال داچي اوس کره شواهد تر لاسه شوی چی همدغه پا یګاه دکود تاچیا نو د سازماندهی په مرکز اغوښتی وه –اودحکومت دنسکورولو دپاره په پټ اوپه محرما نه بڼی سره له همدی ځای څخه توطیی ته سازمان ورکړل شوی اوهغه دا چي د کودتا په وخت کی جنګی جیت الوتکی دکود تا چیا نو په ملاتړ د همدی میدان په دننه او د باندی پروازونه تر سره کو ل اودهغه روښا نه بیلګه داچي دکود تا د نا کامه کید وڅخه یوڅه لنډ موده وروسته دهمدی هوایی اډی عمومی قوما ندان اوسرمشر جنرال بیکرارکن (General Bekir Ercan) سره څنوکودتاچي افسرانو هم د ترکیی دحکومت له خوا ونیول شو او ټول بند یا ن شول بله مهم خبرداچي په دی هوایی اډه کی د امریکا د پوځی قوتونو بی شمیر او ډیري هستوی سلاح اوجنګی مهمات زیرمه شوی کوم چي دهغی څخه تکړه او بیدار څارونکو تل څارنه کوی نوکه چیری هغوی د دی کوتا څخه بی خبری ښکاره کوی دا نو پخپله دامریکی دمتحده ایالاتو داطلاعا تی کارمندانو بی کفایتی څخه بل شی نه په ګوته کیږی اویا دامریکی دمتحده ایالاتو انکار کولو ته هیڅ اعتبار نه ورکول کیږی -کوم چي دهمدی اډی څخه دا**ردوغان** د حکومت د نسکورولو د پاره د تهاجم او دحملی سازمان نه وی تر سره شوي .او بله داچي ډیری اوبی شمیره کودتا چیان یوبل پسی دحکومت له خوا ونیول شو لکه هغسی چي **کولونل مورات بولات** (Colonel Murat Bolat) د **ینی سا یا ک** (Yeni Sayak) محافظه کارژورنالست ته وایي :چي ما خپل دکنډ ک ټول پرسونل ددی احتمال په درلودو سره چي **اردوغان** مړشوی دی بند یا ن کړ ترهغه چي د امریکا یی اطلاعاتو له یوه موثقه منبع څخه خبر شم چي **اردوغان** ژوندی او په یوه محل کی ځای پر ځای دی . دبلی خوا څخه په همدغه غونډه او میتینګ کی یو بل سړی چي په اغلب

ګمان سره دنظم خاص دقوتونو پوری تړلی یوافسر وه هغه داسی وویل : هیڅ چاته مونږ اجازه نه ورکو چی **اردوغان** زمونږ د منګلو څخه خلاص کړی نو دهغه د خبرو څخه داسی **معلومیدل** چي شا يد **اردوغان** وروسته له نیول کید و څخه په قتل رسید لی وي اویا دکوم ځانګړی نظم خاص قوتونو پوری دتړلی افسر سره د متقابل یرغل په وخت کی نیول شوی او په بند کي اووسي .( اردوغان نو ځکه متحده ایالات ګرم بولی چی هغه هیواد دکود تاچیا نو څخه ملاتړ کړی او دهمدی کودتاچیا نو تر شا ولاړ وه - ) **(د جهانی سوسیالیستی له ویب پاڼی څخه )** .

نو که چیری دغه تر لاسه شوی اویا را رسیدلی اطلاعات ریښتیا نه وی او په هغه کی څه شک او شبهه موجود اووسی نو واشنګتن با ید کم ترکه ددغی کودتا د را پیښید و په اړین دنورو لارو څخه په ګټه اخیستو ځان له حقیقته خبر کړی وایي.

دغه پیښه یا دغه کود تا د ها ردورد د پوهنتون د پروفیسور **داني رودريک** ( Dani Rodrik) په نظر داسی رسي چي پردغه نا کا مه کودتا باندي دامریکی د متحده ایالاتو دلاس لرلو په اړه باید ژور توضیحی پلټنی وشي .کوم چی ددی پیښی په اړین په لاندی بڼی سره دهغه توضیحات داسی وړاندی کیږي :

«* ممکن چی دامریکی متحده ایالات په مستقیم بڼی سره دفتح الله ګولن د هلی ځلی سره په اړخ کی نه وی دريد لی اویا هغه سره ښکاره مرستی نه وی تر سره کړی اوا داهم ډیرستونزمن ښکاری چي دا مریکی د متحده ایالاتو دموجوده اداری دځنورسمی حلقولاس اوضمنی کمکونه رد کړو او بیا په ځانګړی بڼی دهغو حلقو مرستی کوم چی **د فتح الله ګولن** سره یوځه نژدی والی او ملګرتیا درلودل.»

* لکه همغسی چی ما د ویکی لیکس د کبل اود صوتی نوار په حواله سره پورته یادونه وکړاو هغه داچي دامریکی خارجه وزارت کم تر کمه په دی باندی باخبر وه اویا د لمړی لاس اطلاعات لرل چی دفتح الله پلویا ن د ترکیی په اردواونظامی جزوتامونو کی له یوڅه مودي څخه راهیسی په د ننه کی فلتر شوی اویا کره نفوذ ترلاسه کړی دي، کوم چي دهغوی هد ف اونیت داوه چي دترکیی په اردو کي دکمال اتا ترک دانديښنی د سکولرو پلویان لری او له د ندو څخه په یو اویا په بل بها نه اودسیسی سره لیری اورخصت کړی اوبیا هاخوا په نا وړی بڼی سره په ډیره پراخه توګه سره دفتح الله ګولن دمخا لفینو په ځپلو کی په پټه سره عملیاتونه ترسره کړی نودهمدی پورتنیو تذ کراتو په نظر کی نیولو سره ایا دامریکی دمتحده ایالاتو اطلاعاتی آژانس خبر نه درلود نو که چیری احیاناً دکودتا څخه ځان په بی خبری کی اچوی دا پخپله یا د هغو کمزورتیا او سهل انګاری دی اویا داچی له موضوع څخه تجاهل کوی حال داچي ممکن

دغه دامریکی اطلاعاتی کارمندان د فتح الله گولن د طرفدارانو د پټ فعالیتونو په اړه پوره اطلاعا ت لرل .

*- دترکیې دنظامی قوتونو ریس اومشر کله چې دکودتاچیا نودهلوځلو په موده کی ونیول شو- هغه وروسته داسی څرګند کړ او وویل : چې څما یو ددی نیوکی کودتا چې جګ پوړی مقام داسی امروکړ چې زه باید د مخابری دلاری پواسطه سره په مستقیم بڼی سره د فتح الله ګولن سره خبری وکړم – چې دا پخپله دهمدی نظامی مشر کره اوانکار نه منونکی دسترګو لیدلی حال اومشاهده دی اوداسی را ښیی چې دغه کودتا دفتح الله ګولن تر رهبری لاندی تر سره کید ل یا دکودتا په سرته رسولو کی دفتح الله ګولن لاس زیدخل او ککړ دي چې دا خپله په احتما لی بڼی سره د(احتمالی لامل) یو ازماینت وه چې د مجرمینو د استرداد د پاره ورته ضرورت لیدل کیدل .

دلته ددولتی مقاماتو نه با ورتیا لاهم د هیڅ یو معتبر سند په وړاندی کولو سره دفتح الله ګولن لاس لرل نه ثابتوی اویا داسی انګیرل کیږی اویا داچې د «ناتو» د نظامی قوتونو مشر په دی مورد کی دروغ وایي (اوهغه داچی ددی کودتا تر شا دامریکی دمتحده ایالاتو لاس وه ؟ دنی رودریک بلاګ ) .

د«اوباما» داداری ملاتړ دسوری دکردانواوهم دهغی اداری اړیکی او مناسبات دترکیې سره دجولای د(۱۵) نیټی دناکام کودتا څخه وروسته دیو لړ درامتیک ناخوالی اووخا مت سره مخا مخ شو یا ددی موجب شو چې ددی دواړو هیوادنو په مناسبا تو کی خړ پړتیا راشي چې دا پخپله به په راتلونکی کی داردوغان پر تمایلاتو باندی اغیزه به واچوي چې ایاامریکی ته دخپل هیوادله هوای اډی څخه چې اوس هلته دامریکی دمتحده ایالاتو هوایی قوتونه ځای پرځای دی هوایی الوتلو ته به اجازه ورکړی چې پرسوریې باندی بمونه وغورځوی اویا نه ؟ اود بلی خوا څخه د روسیې اود ترکیې ترمینځ د ښومنا سبا تو دبراقراریدو چټک ګامونه او د هغه په ترڅ کی دهغه هیواد مناسات دایران او دروسیې د نورو متحد ینو سره کوم چې غواړی په منطقه کی د غرب تهد ید او دښا نتا ژ لمن را ټول کړی یوه بله قوی ضربه دی چې غرب ته ورکول کیږی .

د (اوباما) اداره لاتراوسه په یو سردرګمی کی هک اوپک ولویدلی او حیران دی چې ولی یو نا څا په د« **اوباما**» داداری او**داردوغان** ترمینځ داسی نا غوښتلی خړپړتیا را مینځته شو چې اصلاً دچا په فکر کی نه را ګرځید ل ، چې **اردوغان** غرب خپل دښمن وګڼی دمسکو – تهران – او دمشق سره دښه مناسباتو دپلی کولو د پاره دومره زړلاس پکا رشی اوهم غرب ته د انکل سم (Uncle Sam) دلړ لید په پیروی کوم چې د مینځنی ختیځ په مجد د راکښل شوی نقشه کی به بد لون راوړی غرب یی په تشویش کی غورځولی دی اویا دغرب د تشویش زمینه یی را میسر کړی دي .

د «اوباما» اداره همدا اوس ډیر په هڅه اواند کی دی چې دامریکی اودترکیې په مینځ

کی دغه را مینځته شوی شخړی اوتشنج څنګه حل کړی نو د همدی مقصد په نظر کی نیولو سره دهغه اداره یوبل پسی خپل لوړ پوړی چارواکی ترکیی ته د لیږدولو په حال کی دی چی څرنګه کولای شی **اردوغان** په دی قا نع کړی چي دامریکی متحده ایالات ددغه نا کام کودتا تر شا لاس نه لرل نو په دغه روان هفته کی دامریکی دمتحده ایالاتو د اردو لوی ارکا ن ریس جوزف دانفورد (Joseph Dunford) ترکیی ته سفر وکړ اوداسی انګیرل کیږی چی دهمدی میا شتي په پای کی دامریکی دمتحده ایالاتو دباند نیو چارو وزیر جان کیری (JOHN kerry) او د جمهور مرستیا ل جوبا یدن( Joe Biden) هم ترکیی ته به سفر وکړی او همدارنګه ښاغلی (اوباما) به هم دموضوع دحلول دلاری په لټولو کی به دهیخ راز هلی ځلی څخه به تر شا نشی ا وځه چي یی په وسه کی لری دراپیدا شوی شخړی به د له مینځه وړلو کی به ستړی نشی .

اما که چیری دامریکی دمتحده ایالاتو دغه دیپلوما تیکی هلی ځلی څه بری را نوړی اونا کامه شی نو په هغه صورت کی لکه چی زه فکرکوم **اردوغان** به د غربی رسنیو په حواله د(هیټلر اردوغان ) صلیب به راوکښل شی او په عین وخت کی نا دولتی (NGO)عملیا تونه په پټه سره د سیا سی اوضاع د بی ثبا تی د پاره په لاره کی به وغورځیږی چی کم ترکمه داپخپله په معمولی بڼی سره یوه لوبه وی چی ترسره به شی .

**دمقالی لیکونکی** : نوموړی دواشنګټن په ایالات کی ژوند کوی هغه **د « اوبا ما »** اودهغه دتوهما تو په مورد کی ډ یری لیکنی کړی دي دهغه پته دادی:

(fergiewhitney@msn.com)

------------------------------------------------------- **په درناوی 14-08-2016**